مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۷/۱۷

# د ویاړ یادونو په منظر کې

د ویاړ یادونو په منظر کې لکه لمر ولاړه
د طوفانونو وړاندې تل یم پر سنګر ولاړه

غرونه اسمان ته ژاړي باز شاهین یې والوځول
د ناتارونو له ستمه یم پر تر ولاړه

خاورې ته اور مې ناشولته له بهره راوړي
له ګاونډ شرمخ او لیوه ته یم پر برم ولاړه

ده انګېرنه تل کمزورې ډاډ مو و بایلوده
خپلو بجو پر ځواک باور کې یم پر زغم ولاړه

د ښېرو پانو کې اغزي د دښمن ګاټي سیزي
ګاوزو ښکر لکه تیشه یې پر ځیګر ولاړه

هوسۍ و سوۍ تریته په ځغاسته سمه لار ورکوي
تاتوبي هر ژوندی نیزه یې شي پر سر ولاړه

تیارو په تل کې نابېره ستوري و ځلیږي
راتول یو ځل به شي سپوږمۍ ورته پر تل ولاړه

هاجرې ازاد خیال اوسیدونکی دا ارمان خپلوي
د رندانه همغږۍ غږ ته پر مورچل ولاړه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ